مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۵/۱۱/۰۹

# د یهودو عادلانه جګړې

## (یوسل او پنځمه برخه)

**پایله:**

د امریکا د ولسمشر جان اېف. کېنېډي د ترور په اړه، وروسته له دغې اوږدې څېړنې څخه د ولسمشر کېنېډي د ترور عاملین څرګند دي خو لکه څرنګه چې باید د امریکا د حکومتونو لخوا په رسمي توګه د ولسمشر د ترور عوامل او عاملین په ډاګه شوي وای او عاملینو ته یې سزاګانې ورکړي وای، له بده مرغه دا کار ونه شو، د دې پر ځای چې پېښه په ریښتیني توګه په ډاګه کړي، برعکس د امریکا هر حکومت د کېنېډي د ترور اړوند اسناد او شواهد پټ کړي او سانسور کړي دي، د امریکا حکومتونو له پلټونکو کمیسیونونو سره (پرته د وارن کمیسیون څخه[1]) داسې عمل کړی لکه د چا چې د محکمې له قاضي سره دعوه رامنځ ته شي، پهځپله قاضي مدعي وي او څه چې د قاضي خوښه وي هغه ډول پرېکړه کوي.

د هغه مهال د امریکا د سترې محکمې رییس قاضي (ارل وارن) چې د ولسمشر کېنېډي د ترور په اړه د څېړنو د کمیسیون مشر ټاکل شوی ؤ (او هغه کمیسیون د ده په نوم یادیږي) ویلي وو چې **«د ولسمشر کېنېډي د ترور حقایق به د اوسني نسل د ژوند تر پایه څرګند نه شي.»** خو اوس چې هغه نسل نه شته او د پېښې ټول عیني شاهدان مړه او یا وژل شوي دي، بیا هم د امریکا پرلهپسې حکومتونو د ملي امنیت د اندېښنو په پلمه نه دي غوښتي د پېښې اصلي حقیقت څرګند کړي، د اسنادو پټول او په خپل وخت نه خپرول د دې شاهدي ورکوي چې په دغه لوی جنایت کې د مهمو چارواکو لاسونه د ولسمشر کېنېډي په وینو ککړ دي، **دومره ستر جنایت چې له درو لسیزو د زیاتې مودې په تېرېدو سره بیا هم، که حقیقت ښکاره شي نو د امریکا ملي امنیت له خطر سره مخ کیږي!**

**پوښتنه دا ده چې که چېرې ولسمشر کېنېډي خپل هېواد ته د خیانت او غدارۍ په جرم وژل شوي وي نو ولې د هغه خیانت په ډاګه نه شو؟ خو که چېرې کېنېډي بېګناه وژل شوي وي او د امریکا تېر حکومتونه د هغه بېګناهي پټوي، دا نو دا مانا لري چې ټول تېر حکومتونه د کېنېډي له ترهګرو قاتلانو سره، د امریکا د یو بېګناه او مظلوم ولسمشر په مرګ کې همغږي او راضي دي.**

ــ په تېرو پاڼو کې مو ولوستل چې ولسمشر کېنېډي د صهیونستانو د اتومي وسلو د جوړولو پر وړاندې سخت دریځ غوره کړی ؤ او د فلسطینیانو د حقونو پلوی ؤ، صهیونستان په دې فکر کې وو چې ولسمشر کېنېډي د خپلې ځوانۍ پر مهال د نازي جرمني د واکمن ادولف هیټلر د نظریو پلوي کوله او د کېنېډي پلار، صهیونستانو ته په ښه سترګه نه کتل.
سربېره پر دې صهیونستان په دې ګروهه وو چې د ولسمشر کېنېډي کورنی د عیسوي دین د کاتولیک مذهب لارویان دي چې کاتولیک عیسویان، له آره له یهودیت سره مخالفت لري چې د تاریخ په اوږدو کې کاتولیکانو د یهودانو ډېرې وینې تویې کړې دي.
پورته ټو عوامل د دې سبب شول چې د اسراییلو د صهیونست او تروریست رژیم لومړی وزیر بن ګوریون خپلو ترهګرو ته د ولسمشر کېنېډي د ترور امر ورکړ.[2] صهیونستان چې د امریکا په حکومتونو او ټولو ادارو کې ژورې

---

[1]: وارن کمیسیون چې د امریکا د سترې محکمې د رییس (ارل وارن) په مشرۍ، د امریکا ولسمشر جانسون لخوا د کېنېډي د ترور د څېړنو او پلټنو په موخه رامنځ ته شوی ؤ، په نوموړي کمیسیون کې د کېنېډي مخالفینو ځای نیولی ؤ چې ښه بېلګه یې د سيآيای پخوانی رییس آلن ډالس دی چې د کمیسیون له مهمو کسانو څخه شمېرل کیده. وړاندې ویل شوي چې وارن کمیسیون د دې پر ځای چې د کېنېډي قاتلان وموميي، برعکس د هغوی په پټولو کې یې کار کاوه.
[2]:https://www.bbc.com/persian/articles/ckg3r9jp248o


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

رېښتي لري او عملاً کار پکي کوي **نو صهيونيستي استخباراتو موساد، له سي‌آی‌ای او په امريکا کي له يهودي مافيا سره په ګډه د ولسمشر کېنېډي د ترور طرحه جوړه کړه.**

ـ سي‌آی‌ای، له دي کبله چي ولسمشر کېنېډي د دوی د ترهګرو کړنو پر وړاندي ولاړ ؤ او د خپلو تروريستي عملياتو له امله يې کېنېډي په نړی کي په شرمونو شرمولی ؤ چي له امله يې ولسمشر اړ شو د سي‌آی‌ای رييس آلن ډالس او نور څو تنه له دندو ګوښه کړي چي له دي وروسته، دا پرېکړه د استخباراتي کړيو د مخالفت او غچاخيستلو فضا لاپسي ګرندی کړه. آلن ډالس او نورو ګوښه شويو څارګرو په منظمه توګه د سي‌آی‌ای له لوړپوړو چاراواکو سره ليدني کتني کولي.
ولسمشر کېنېډي يو سوله‌غوښتونکی شخص ؤ، هغه نه غوښتل له شوروي اتحاد او د شوروي پلوه هېوادونو، په ځانګړي توګه له کيوبا سره جګړه وکړي چي له دي کبله د ولسمشر کېنېډي مخالفينو هغه کمونيست او کمونيست‌پلوه کس باله، **هغه وو چي سي‌آی‌ای او انديوالانو يې د ولسمشر کېنېډي د وژلو پلان جوړ او عملاً يې کار پيل کړ.**[3]

ـ په امريکا کي يهودي مافيا، د ولسمشر کېنېډي په ترور کي په دې دليل ونده لرله چي ولسمشر کېنېډي غوښتل د امريکا د بانکي او سوداګريز سيستم په برخه کي اصلاحات راولي او د خصوصي (يهودي) بانکونو د نفوذ او د تېلو د شرکتونو په محدودولو کي پياوړي ګامونه پورته کړي چي له امله يې د مافيايي کړيو مالي ګټي له خطر سره مخ کيدلي چي ډېری يې د يهودي پانګه‌والو تر اغيز لاندي وي. دا کړی د موساد او سي‌آی‌ای د ځينو چاراواکو سره په نږدې اړيکه کي وې چي د ګډو ګټو پر بنسټ يې د ولسمشر کېنېډي د ترور پلان لاپسي پياوړی او ګرندی کړ.
نو کله چي د سي‌آی‌ای، موساد او يهودي مافيا لهخوا، د لي هاروي اسوالد په لاس ولسمشر کېنېډي ترور شو، د امريکا يهودي مافيا، د ولسمشر کېنېډي قاتل په رڼا ورځ له منځه يوړ، که له يوې خوا د لي هاروي اسوالد په وژلو سره د ولسمشر کېنېډي د ترور په اړه د اړوند مالوماتو مخه ډب شوه، له بل پلوه د ولسمشر په ترور کي د يهودي مافيا د لاس لرلو د ثبوت لپاره يو ښه ثبوت رامنځ ته شو.
د شواهدو په رڼا کي ښکاري چي د ولسمشر جان ايف. کېنېډي ترور يوازې د يوه انفرادي برید یا شخصي عقدې پایله نه وه، بلکي د سياسي، استخباراتي او مالي کړيو ترمنځ د يوې منظمي همغږی پايله وه.
پايله دا ده چي د کېنېډي د ترور پېښه د شلمي پېړی يو له هغو تاريخي رازونو څخه ده چي تر اوسه يې بشپړ حقيقت د سياسي مصلحتونو(!) له امله پټ ساتل شوی دی. **د شواهدو له مخي د سي‌آی‌ای، موساد او د امريکا دننه د يهودي مافيا ترمنځ د همغږی احتمال تر ټولو پياوړي نظريه ده چي که څه هم رسمي بڼه نه لري خو د شواهدو پر بنسټ تر ټولو مستند او منطقي تعبير ګڼل کېږي.**

نېټه: ۱۴۰۴/۸/۳۰ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلی محمد انور اځړ نوري ليکني په دی لينک کي ولولی.

[3]: په تېره ليکنه (۱۰۴) برخه کي د سي‌آی‌ای د يو باوري او مهم مامور (ای. هاوارد هانت) څرګندوني ولولئ، نوموړی د خليج د خوګانو د عملياتو ګډونوال ؤ، هغه د ولسمشر کېنېډي په ترور کي مخامخ ګډون درلود او د ترور عيني شاهد ؤ، هانت، د (واټرګيټ) دسيسې له غلو څخه هم ؤ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ